# دهېواد د ځوان او ودی په حال کې نسل ته د ګوند د بنسټ ایښوونکی کنګرې پیغام

د ۱۳۹۵ کال د لړم ۲۶

درنو ځوانانو،

خوشاله یو چې له دې تریبونه خپل د مینې ډک او د خوښی پیغام تاسو د لوړ فرهنګ خاوندانو ته وړاندې کوو.

له څلورو لسیزو را پدې خوا زموږ هېواد هم د دېموکراتیک ګوند – دولت د تېروتنو او نادودو کړو وړ له لامله او هم د سیمه ایزی ارتجاع او دهغه د نړیوالو پلویانو له خوا د درغلی، لاسوهنی، پټو او بربنډو توطیو او دسیسو له لامله او همداراز د منځنیو پیریو دارتجاعی شاتګپال ځواکونو دوګړنی ضد او دیموکراتیک ضد کړو وړو له لامله د یو سیاسی – ټولنیزناخوالي سره مخ شوی دی. په خواشینی سره چې دغه ناخوالی ورځ تر ورځ او پراو په پراو په پراخیدو او کړکیچن کېدو سره د هېواد بیوزله او تش لاسه زیار کښان بلهاري کوي.

د افغانستان خلک چې تر دې دمخه هم د سلطنتی ځواک د محافظه کاری او وګړنیز ضد سیاستونو له لامله د یو ظالمانه ټولنوټیز( اجتماعی – اقتصادی) اکر تر اغیز لاندې د ناهیلی له کبله یی ډول ډول ستم، زبیښاک، لوږه او بدې ورځې په زعملو مجبور ول، لاهم دڅلورو لسیزو د زور ځواکی جګړو او د ټولنی سیاسی – ټولنیز اډانی د ویجاړیدو دروند پېټی پر اوږو وړي.

د طالبانو د منځنی پېړی د ځواک له نړیدو وروسته ، د ناتو – امریکا سیده یرغل چې پر درواغو وعدو لکه : ددولتي اډانی بیارغول، د پراخ آرامی او ټیکاو بیا پلی کول، د جګړو نه د پاتی شونو ړنګو کنډوالو بیا ودانول، د ټولنیزو آزادیو ، خپلواکیو او ددېموکراسی بنسټ ایښوولو سره مل وو، خو د تېرو ۱۵ کلونو تجربو دا راوښوود چې د درغلیو نه ډکو شعارونو سره سره نه یوازی هیڅ یوه داسي نښه چې د ټولنې د نیکمرغی ژمندوی وی په سترګ ارت ( چشم انداز) کې نه لیدل کیږی ، بلکه زموږ هېواد د نادودو او غیر وګړنی سیاستونو له لامله چې موخه یی د اوسني ځواکمن نظام د بهرنیو پلویانو د ګټو ساتل دی، له پرزا سره مخ شوی او د ټولیز منځه تللو پر لوری پر مخ درومی.

په داسي اکر کې زموږ ګوند ، د ټولني دتشلاسو او بیوزلو پوړونو د ګټو د ساتندوی په توګه د یو دېموکراتیک او نیاو پال کړنلار په وړاندې

کولو سره هیله من دی چې د وګړو، په ځانګړی توګه د مخ پر ودې ځوان نسل پر مټ زموږ د بی وزلو خلکو د نیاو غوښتونکو آرمانونو د پلی کولو په لاره کې پراخ سیاسی آزادی غوښتونکی کارنده ( فعالیت ) پیل کړی.

د ځوان نسل د زور او کارنده انرژی باندی پر ډاډ سره باور لرو چې ځوانان دې، چې د زموږ راتلونکی به ددوی پر لاس جوړ شي، همدانن د ټولنې د سازمانی او سیاسی بهیر په سمولو او لوری ورکولو کې ګډون وکړي.

زموږ د ګوند په کړنلاره کې د ښکل شویو موخو رښتیاینه ( تحقق) یوازی دځوان لوستي او روښاندو په شتون کې چې له نیکه مرغه دهېواد د ودی او پرمختک په لاره کې له لوړی پوهې، تخصص او ټینګ نیت خاوندان دی، کیدونکی دی.

موږ په همدې هیله او نیت د هېواد پراخ ځوان ځواک ګډ کارته رابولو تر څو هېواد له دې نابخولی اکر نه د ایستلو او د یو رښتینی دېموکراتیک نظام په ټینګولو کې چې د ډیریو ګټې پکی خوندی وی زموږ مرستندوی شی. یادونه کوو چې موږ همدا نن د سازمانونو، ټولنو او د ځوانانو د اډانیزو ټولنو سره د رغنده خبرو اترو، ګډ کار او ګدی همغږی فضا د رامنځته کولو لپاره چمتو یو!